## د علمي څېړنو آمریت پېژندنه

**پېژندنه:**

د علمي څیړنو آمریت د لمړي ځل لپاره په (۱۳۹۹هـ ش) کال کې د علمي معاونیت تر چتر لاندې ایجاد او وروسته د علمي څیړنو معاونیت د ایجاد سره سم د همدغه معاونیت تر چتر لاندې خپل فعالیتونه د دندو د لایحې مطابق د ټولنې د پرمختیا لپاره مخته وړي. د علمي څیړنو آمریت آمر، یو تن د څیړنو عمومي مدیر او دوه نور مدیرتونه ( د طبعي علومو کارشناس او د اجتماعي علومو کارشناس) په خپل تشکیل کې لري.د علمي څیړنو آمریت د پوهنتون په کچه د څیړنیزو آسانتیاوو په رامنځ ته کولو او د څیړنو لپاره د غوره چاپیریال سره سره د څیړونکو د هڅونی لپاره دوامداره هلی ځلي کوي. او غواړي چې پوهنتون د هیواد اوسیمې په کچه یو ځلیدلي څیړنیز مرکز باندي تبدیل کړي.

**فعالیتونه او عمده لاسته راوړنې:**

- ☐ د غوره څیړونکي، مؤلف او ژباړونکي ستاینه
- ☐ د څیړنو د پایلو د ترویج په موخه پوسټر پرگرام
- ☐ د غذایي امنیت او مصؤنیت ملي کنفرانس
- ☐ د نشراتي صفحی څخه دوامداره څیړنیز نشرات
- ☐ د څیړنو مستند کول.
- ☐ د یو معیاري کتاب په بڼه په هیواد کې د تطبیق وړ څیړنو د پایلو شریکول
- ☐ دڅیړنو د نظر پوښتنې او د تحلیلی راپور په اساس یې د څیړنو پلان

**لرلید**

د پوهنتون د علمي څیړنو آمریت په دې لټه کې دی چې د کړنې او مالدارۍ په برخو کې یو داسې علمي چاپېریال رامنځته کړي چې د څیړنې او نوښت له لارې د پوهې پراختیا، ټولنیزو ستونزو حل، او د ملي پرمختګ لپاره دوامداره اغېزمنې لارې چارې وړاندې کړي.

**رسالت**

د علمي څیړنو آمریت ژمن دی چې د پوهنتون د استادانو او محصلینو ترمنځ د څیړنې او علمي هڅو فرهنګ ته وده ورکړي، د څیړنو بنسټیزو اسانتیاوو برابرولو او د څیړنې پایلو د عملي کولو له لارې د ټولنې د پرمختګ لپاره رغنده ونډه ولوبوي.

**موخې**

1. **د څیړنې کلتور ترویج:**

   په پوهنتون کې د استادانو او محصلینو ترمنځ د څیړنې ارزښت لوړول او د علمي څیړنیزو هڅو لوړول.

۲. **د څېړنو لپاره اسانتیاوې برابرول:**

لکه د لابراتوارونو، کتابتونونو، څېړنیز فارم او نورو اړوند برخو سره همغږي او همکاري

۳. **د څېړونکو د وړتیاوو لوړول:**

د څېړنې په اړه روزنیز پروګرامونه، سیمینارونه او ورکشاپونه جوړول ترڅو استادان او محصلین د څېړنې نوې لارې چارې زده کړي.

٤. **د علمي څېړنو معیار لوړول:**

د څېړنې لپاره نړیوال معیارونه مراعت کول او د کیفیت تضمین لپاره څېړنیزې پروسې لا ښه کول.

٥. **د ملي اړتیاوو په رڼا کې څېړنې کول:**

د هیواد د اساسي موخولکه په کرنه او مالدارۍ کې نوښتونه رامنځ ته کول، چاپېریال ساتنه، اقتصادي پرمختګ، د خوړو امنیت، او اقلیمي بدلونونو لپاره عملي څېړنې ترسره کول.

٦. **د څېړنې پایلو عملي کول:**

د څېړنو پایلې د ملي او سیمه‌ییزو پالیسیو جوړونې او د ټولنیزو ستونزو د حل لپاره د اړوند اجرایوي ارګانونو سره شریکول.


۷. **د نړیوالو اړیکو پراختیا:**


له نورو ملي او نړیوالو پوهنتونونو او څېړنیزو مرکزونو سره همکاري کول او د څېړنې په برخه کې د تجربو تبادله.

۸. **د څېړنې تمویل سرچینې پراخول:**

د څېړنې تمویل لپاره د دولتي، غیر دولتي او نړیوالو بنسټونو سره اړیکې ټینګول.

## د علمي څېړنو آمریت تشکیلاتي چارټ




څېړنې، تألیف او ژباړې بورډ
دوکتور شریف الله شریفي
(بورډ مشر)
پوهاند سید محمد کبیر مین
(غړی)
پوهنیار عصمت الله رسا
(غړی)
پوهنیار کرامت الله فاضل
(منشي)
پوهنمل دوکتور حکمت الله عبید
(غړی)
پوهندوی دوکتور محمد داود باور
(غړی)
پوهنیار دوکتور محمد موسی داودزی
(غړی)